# د اصحابو عدالت

علامه عسکری

بسم الله الرَحْمنِ الرَحِيْمْ

قَالَ رَسُولُ الله صَلي اللهُ عَلَيه وآلِه وَسَلَمْ فِيْ حَقِ شُهَداء أُحُدْ: "هَوُلاء اَشهَدُ عَلَيهم" فَقالَ ابوبكر(رض): اَلَسْنَا يَارَسول اللهَ اِخوانُهُمْ، اَسْلمْنا كما اَسْلَمُوا و جاهَدْنا كَمَا جَاهَدُوا ؟!

فقالَ رسول الله (صَلي اللهُ عَلَيهِ وآلِه وَسَلَمْ): "بلى، وَ لكِنْ لا اَدْرِيْ مَا تَحْدِثُونَ بَعْدي!"

رسول الله مبارک د احد د شهیدانو په هکله وفرمایل: "د دې ډلې د برحقه کیدا ګواهي ورکوم" ابوبکر(رض) وویل: اې د خداې رسوله! ولې مونږ د هغوي ورونه نه یوو، د هغوي په څېر مو اسلام راوړ او د هغوي په شان مو جهاد وکړ؟ پیغمبر(ص) وفرمایل:"ولې نه، خو نه پوهیږم له ما وروسته به کوم بدعتونه کوئ.[1]

[1] . موطا مالک، کتاب جهاد، دوهم ټوک، ۴۶۲مخ، ۳۲ حدیث.

# موضوګانې چې لولو

## په دواړو مکتبونو کې د صحابي تعريف

۱. د خلفاؤ په مکتب کې د صحابي تعريف
۲. د اهل بيتو په مکتب کې د صحابي تعريف
۳. د خلفاؤ په مکتب کې د صحابي د پيژندنې ضابطه
٤. پر دې ضابطې اشکال

## په دواړو مکتبونو کې د اصحابو عدالت

۱. د صحابهؤ د عدالت په باب د خلفاؤ د مکتب ليدتوګه
۲. د اصحابو د عدالت په باره کې د اهل بيتو د مکتب نظر
۳. د مؤمن او منافق د پيژندنې ضابطه

# په دواړو مکتبونو کې د صحابي تعریف

## ✱د خلفاؤ په مکتب کې د صحابي تعریف:

ابن حجر د خپل کتاب "الاصابه" په سریزې کې د صحابي په تعریف کې وایي:

صحابي هغه څوک دی چې پیغمبر(ص) یې لیدلی، پر هغه یې ایمان راوړی او مسلمان مړ شوی وي، که له پیغمبر(ص) سره د هغه ملګرتیا او لیدنه لږه وي یا ډیره، له پیغمبر(ص) یې روایت کړی وي یا نه، له پیغمبر(ص) سره غزا ته تللی وي یا نه، دغه ټول وګړي زمونږ له تعریف سره سم: چې پیغمبر(ص) یې لیدلی، ځائیږي، ان تر دې که چیرې یوازې یو ځل یې پیغمبر(ص) لیدلی او ورسره یې ناسته هم نه وي کړي،

او يا يې د نابينايي له كبله هغه مبارك پخپلو سترګو نه وي ليدلى.[١]

هغه د خپل كتاب په يوې بلې برخې كې وايي: "هغه ضابطه چې پرې په پوهيدا سره د ګڼ شمېر كسانو صحابي كيدا معلوميږي:

١. هغوي (خليفه ګانو) په سوبو كې يوازې اصحاب په قومندانې ګمارل.

٢. په لسم هجري كال كې، په مكې او طايف كې هيڅوک نه وو خو دا چې اسلام يې راوړ او له پيغمبر(ص) سره يې په حجة الوداع كې شتون درلودۀ.

٣. د اوس او خزرج د دوو قبيلو ټولو وګړيو د پيغمبر(ص) د دورې تر پايې پورې اسلام راوړ يعنې مسلمانان شول.

٤. د پيغمبر(ص) له رحلته وروسته هم په هغوي كې هيڅوک كافر نه شول.[٢]

١. الاصابه، لومړى ټوک، ١٠ مخ

٢. الاصابه، لومړى ټوک، ١٢ مخ.

زه دا وایم که چیرې یو څېړتند زمونږ د کتاب "یو سل او پنځوس جعلي صحابیان" برخې وجاجوي، د اصحابو په هکله د خلفاؤ د مکتب د تسامح او غفلت پر ژورتیا او د حدیث په علم د هغه په تاوان پوپیږي.

## ✸د اهلبيتو(ع) په مکتب کې د صحابي تعريف

د صاحب جمع صحابه د ملګري او ناسته پاسته کوونکي په معنا ده او صحابي يعنې د پيغمبر(ص) له اصحابو هغه يو کس چې د هغه مبارک ملګری او روسره يې ناسته پاسته کړی وي او لکه څنګه چې ښکاره ده، يوازې د هغه چا په باب رښتيا ده چې له هغه مبارک سره يې زياته ملګربيا او ناسته پاسته کړې وي، ځکه چې مصاحبت د اوږد مهاله ملګرتيا تقاضا کوي.[١]

بله خبره دا چې، کله مصاحبت او ملګرتيا د دوو تنو تر مينځ وي، ناچاره بايد د صاحب لفظ او د هغه جمع صحابه په کلام کې له يو بل نوم سره ورزيات شي (مضاف او مضافٌ اليه) لکه څنګه چې په قران کريم

---

١. مراجعه دې وشي لسان العرب او مفردات راغب، ماده "صحب"

کې داسې راغلي "يَا صَاحَبَيَ السجْنِ"[۱] يعنې اې زما دوو ملګرو بنديانو، او "اَصْحَابُ مُوسَي"[۲]
د پيغمبر(ص) په زمانې کې هم ويل کيدل: "صَاحِبُ الرَسُوُلْ الله" او "اَصْحَابُ رَسُوُلُ الله" يعنې صاحب او اصحاب يې له رسول الله سره ورزياتول.
لکه څنګه چې ويل کيدل "اَصْحَابُ بَيْتِ الشَجَرَةْ" او "اَصْحَابُ صُفَهْ" يعنې ټول يې په اضافې او د بل په نسبت راوړل، او په هغه وخت کې د صاحب او اصحاب لفظ په يوازې سر او د مضاف اليه له راوړلو پرته، د پيغمبر(ص) د اصحابو نوم نه ؤ خو د خلفاؤ د مکتب مسلمانانو ورو ورو د خداي د رسول اصحاب، اصحاب او صحابي ونومول. نو دا تسميه او نوماول، د متشرعه اصطلاح او د مسلمانانود نومولو ډول دی.
دا د صحابي په تعريف کې د دوو مکتبونو ليدتوګه وه.

۱ . سورة يوسف ۲۹ايت.
۲ . سورة شعراء ۲۱ ايت.

## ✸ د خلفاؤ په مکتب کې د صحابي د پيژنګلو ضابطه

پردې سربيره چې ومو ويل، هغه کسان چې د خلفاؤ په مکتب کې يې د صحابو معرفي او حال تشريح کړی دی، د هغوي د پيژنګلوۍ لپاره يې ضابطه هم ښودلې ده، لکه څنګه چې ابن حجر په الاصابه کې وايي:[۱]

د هغو ناپيژندل شويو خبرو په شمول چې د صحابي په تعريف او پيژندګلوۍ کې له مخکښانو (حديث) تر مونږه رسيدلي. که څه هم پر هغه څه نص نيشته، يو روايت دی چې ابن ابي شيبه په خپل تصنيف کې له نه رد شوي لارې نقل کړی چې هغوي (خلفاؤ) په سوبو يعنې فتوحاتو کې يوازې اصحابو ته قومنداني ورکوله.

نامروده لاره چې ورته اشاره شوي، هغه روايت دی چې طبري او ابن عساکر پخپلو سندونو سره له سيف،

۱. الاصابه، لومړی ټوک ديارلسم مخ.

ابو عثمان، خالد او عباده څخه نقل کړی دی، په هغه روایت کې وایي:

"قوماندانان به تل اصحاب وو، خو کله چې به د مقام مناسب سړی په هغوي کې نه موندل کیدل نو بل چا ته به یې دا مقام ورکول کیدهٔ."[۱]

په یو بل روایت کې طبري د سیف له قوله وایي:

"عمر خلیفه تر هغه وخته چې په اصحابو کې یې مناسب وګړی او د جنګ وړ کس موندهٔ، هغه ته به یې د قومندانۍ له ورکولو ډډه نه کوله، او که چېرې یې داسې وګړی نه موندلی نو قومنداني به یې "تابعین باحسان" ته سپارله او د راویانو په پرګنې کې هیڅ یوهٔ د مشرۍ او قومندانۍ تمه نه کوله."[۲]

---

۱ . تاریخ طبري، لومړی ټوک، **۲۱۵۱**مخ، د اروپا چاپ.

۲ . تارخ طبري، لومړی ټوک، **۲۴۵۷** او **۲۴۵۸** مخونه.

## ✸د صحابي د پیژنګلو پر ضابطې اشکال

د استناد وړ د دواړو روایتونو مرجع، سیف بن عمر دی چې د حدیث پوهانو له نظره د حدیث په جعل کولو تورن او زندقه دی.[1]

سیف دغه ضابطه له ابو عثمانه روایتوي، او ابوعثمان چې له خالد او عباده څخه د سیف په روایتونو کې نقل کړی او سیف پخپل خیال هغه یزید بن اسید غساني نومولی، دا هغه نوم چې سیف پخپله د حدیث په راویانو کې جوړ کړی دی.[2]

د دغو راویانو له روایتونو چې ورتېر شو (هر څوک چې وو او هر څه چې وو) د هغو محتوا هم له تاریخي واقعیت سره سمون نه خوي، ځکه چې د "اغاني" خاوند روایت کړی او وایي:

---

۱ . مراجعه وکړئ: عبدالله بن سبا، لومړی ټوک، د سیف د ژوند حال.

۲ . مراجعه وکړئ: رواة المختلقون کتاب ته، (چې خطي نسخه ده) عبدالله بن سبا، لوړی ټوک ۱۱۷مخ، د بیروت چاپ۱۴۰۳هـ

"امرؤالقیس شاعر د عمر ه لاس مسلمان شو او عمر هغه وړاندې تر دې چې حتي یو رکعت لمونځ وکړي، په ولایت او قومندانۍ وګماده".

د دغه خبر تشریح په ورپسې روایت کې له "عوف بن خارجه مري" څخه راغلې چې وایي: "په خداي قسم، زه د عمر بن خطاب د خلافت په وخت کې له هغه سره ووم چې ومې لیدل چې کږې پښې یو سړی په لږو ویښتو سره د خلکو د سر د پاسه ګامونه اخیستل څو د عمر(رض) مخامخ ودریدۀ او هغه ته یې د خلافت مبارکي وویله عمر ترې وپوښتل: "ته څوک یې؟" وې ویل: "زه نصراني یم، زه امرؤالقیس بن عدي کلبي یم" عمر هغه وپیژنده او ورته یې وویل: څه غواړې؟ وې ویل: اسلام، عمر هغه ته اسلام وړاندې کړ او هغه قبول کړ. بیا یې نیزه وغوښتله او په شام کې د قضاعه[1] پر مسلمانانو د قومندانې بیرغ یې وروتاړۀ

[1] . قضاعه، سترې قبیلې دي چې منجمله د حیدان، بهراء، بلي او جهینه قبیلې دي چې د هغوي مفصل حال د ابن حزم د انسابو په جمهره، ۴۴۰ او ۴۲۰ مخونو کښې راغلی دی، د هغوي

او دغه شيخ د ستنيدا په وخت بيرغ په خپل سر رپولی ؤ".[۱]

همدغه راز د علقمه بن علاثه کلبي له مرتديدا ښخه وروسته د څو قومندايندا کيسه ده لکه څنګه چې په "غاني" او "صابه" کې د هغه د حال په شرح کې راغلې ده.

علقمه د پيغمبر(ص) په وخت مسلمان شو او د خداي د رسول صحبت يې درکړ، بيا د ابوبکر(رض) په زمانه کې مرتد شو، ابوبکر(رض) خالد هغه ته وليږۀ او هغه وژړيدۀ، ويلي شوي دي هغه بيا ستوي شو او مسلمان شو. دا داستان په اصابه کې داسې راغلی:[۲]

ټاټوبی په شحر بيا په نجران او ورپسې په شام کې وو، د زياتو معلوماتو لپاره د عربو قبائلو معجم ماده قضاعه ته رجوع وکړئ ۳ټوک، ۹۵۷مخ.

۱ . اغاني، ۱۴ ټوک ۱۵۷مخ، چاپ ساسي، په لنډه توګه د انساب العرب په جمهره، ۲۸۴ مخ موندلی شئ.

۲ . الاصابه دويم ټوک، ۴۹۲-۴۹۸مخ، اغاني ۱۵ټوک ۵۲مخ، چاپ ساسي.

هغه د عمر په زمانې کې شراب وڅښل او عمر هغه ته سزا ورکړه، مرتد شو او روم ته لاړ، د روم باچا یې درناوی وکړ او ورته یې وویل: ته د عامر بن طفیل د اکازوی یې؟ هغه غوسه شو او وې ویل: زه له عامره[1] پرته نشم پیژندلی نو ستون شو او مسلمان شو.

په اغاني او اصابه کې راغلي دي: دا اغاني عبارت دی:

"کله چې علقمه (له اسلامه په مرتدیدا پسې) مدینې ته ستون شو، د شپې په تیارې کې له عمر بن خطاب سره مخاخ شو، څنګه چې عمر، خالد ته ورته وو او خالد د هغه دوست ؤ، ګومان یې وکړ چې هغه خالد دی، نو سلام یې ورته وکړ او ورته یې وویل: عمر ته له قومندانې لېرې کړې؟ عمر وویل: هو، همداسې ده، علقمه وویل: په خداي قسم! ستا لیري

۱ . د علقمه او عامر تر مینځ زړه بدی پیښې شوی چې د خبر خاوندانو هغه روایت کړی او په اغاني کې د پنځلسم ټوک په ۵۰مخ موجود دی، له دی امله علقمه نه خوښوله د ې په خاطر چې د عامر د ترۀ زوی دی، (عامر چې له هغه یې کرکه درلوده).

کول یوازې د بخل او حسد له کبله وه، عمر وویل: زمونږ سره د مرستې په باب ذه خیال لرې؟ هغه وویل: خداي ته پناه! عمر(رض) پر مونږ د اوریدلو او اطاعت حق لري او مونږ د هغه پر خلاف هیڅ کار نه کوو.

سبا سهار کله چې عمر(رض) خلکو ته د ورتګ اجازه ورکړه، خالد او علقمه هم ورغلل، علقمه د خالد په څنګ کې کښیناسته، عمر علقمه ته مخ کړ او وې ویل: ووایه علقمه! هغه ته وې چې هغه خبرې دې خالد ته کړي؟

علقمه خالد ته مخ کړ او ورته یې وویل: اې! ایا څه چې مې درته ویلي هغه دې اشوا کړي دي؟ خالد وویل: افسوس پرتا! په خداي قسم زۀ تر دې مخکښې له تا سره مخامخ شوی نه یم، زه ګومان کوم هغه دې لیدلی دی، علقمه وویل: په خداي قسم، هماغه مې لیدلی.

بیا د عمر په لور پام وکړ او وې ویل: اې د مومنانو امیره! له نیکۍ پرته دې څه نه دي اوریدلي. عمر

وویل: هو، همداسې ده، ایا غواړې د حوران[1] واکمن دې کړم، علقمه وویل: هو، همر هغه ته د حوران واکمني ورکړه اوهم هلته وو چې مړ شو، په اصابه کې زیاته شوې ده: عمر وویل: که له ما وروسته راتلونکو کسانو زما په باره کې ستا په شان نظر درلود نو په ما به له اخوا دیخوا کسانو ډیر ګران وو.

هغه څه چې مو نقل کړل تاریخي حقیقت دی خو د خلفاؤ د مکتب عالمانو، هغه څه چې روایت کړي دي، استناد کړی او له خپلو روایتونو یې د خدای د رسول د اصحابو د پیژندګلوی ضابطه معلومه کړې ده، او په همدې خاطر یې په زندقه تورن سیف بن عمر په شان جعلي وګړي، د پیغمبر(ص) په اصحابو کې شمیرلي دي.

د سیف جعلي اصحاب مونږ په خپل کتاب "یو نیم سل جعلي صحابه" او همدغه راز د هغه روایتونه، جاجولي او څیړنه مو پرې کړې ده.

---

١ . حوران د دمشق په خوا کې یوه پراخه سیمه ده چې پریمانه کلي او کروندې لري، معجم البلدان، دوهم ټوک، ٣٥٨مخ

د صحابي په تعريف کې د دوو مکتبونو د ليدتوګو په جاج پسې اوس په وړاړو مکتبونو کې د اصحابو په عدالت غور کوو.

# په دوارو مکتبونو کې د اصحابو عدالت

## ✸ د اصحابو د عدالت په باب د خلفاؤ د مکتب لیدتوګه

د خلفاؤ مکتب ټول اصحاب عادل ګڼي او د دیني علمونو په ترلاسه کولو کې هغوي ټولو ته مراجعه کوي. د جرح او تعدیل مخکښ، ابوحاتم رازي[1] د خپل کتاب په سریزې کې وايي:

"او د خداي د رسول اصحاب، هغوي چې د وحي او کتاب د نازلیدا شاهدان وو، او تفسیر او تاویل یې پیژندلی دی، هغه کسان چې خداي عزوجل، هغوي له خپل پیغمبر(ص) سره د ملګربیا او صحبت لپاره غوره کړي او خپله مرسته، د دین ټینګتیا او د حق ښکاره کول یې ورسپارلي، هغوي یې د

۱ . ابو محمد عبدالرحمن بن ابي حاتم رازي (وفات ۳۲۷ هجري) د "تقدمة المعرفة لکتاب الجرح والتعدیل" د کتاب خاوند، په ۱۳۷۱هجري، حیدر اباد چاپ، ۷ او ۹مخ.

پیغمبر(ص) اصحاب خوښ کړي او زمونږ بزرګان او پیشوایان یې ګرځولي دي او هر څه یې چې سنت کړل او تشریح یې کړل، او هر څه یې چې حکم وکړ او واجب یا مستحب یې وګرځول او هر څه یې امر او نهي یا منع کړل، ټول یې زده کړل او ویې ساتل او استحکام یې وربخښه، نو په دین کې فقیه شول، او د خداي امر و نهي او د هغه مقصد یې د کتال و تفسیر او تاویل په مشاهدې سره د رسول الله (ص) په شتون کې او له هغه څخه په اخیستلو او استنباط سره وپیژندهٔ، خداي عزوجل په دې وسیله هغوي ته شرافت وبخښهٔ او د پیشوایۍ په مقام د هغوي په ګرځولو سره یې درناوی وکړ او له هغوي یې شک، دروغ، غلط، ویاړ او عیب لیرې کړل او هغوي یې د امت فریاد اوریدوونکي ونومول او پخپل محکم کتاب کې یې وفرمایل: وَ كَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ اُمةً وَسَطاً لِتَكُونُ شُهَدَاءَ عَلَي النَاسِ... او په دې ډول مو تاسو مینځنی امت وګرځولئ چې پر خلکو ګواه اوسئ[1].

---

۱ . سورة بقره، ۱۴۳ ایت.

او پیغمبر(ص) د پاک خداي د قول "وسطاً" تفسیر په "عدولاً" یعني منصف (عادل) وکړ، نو هغوي د امت منصفان، د هدایت پیشوایان، د دین حجتونه یعني دلیلونه او د کتاب او سنت نقلوونکي دي او الله جل شانه پر خپلې لارې د هغوي برلاسې او په دې لاره تګ او د هغوي پیروي محبوبه او بلنه یې وکړه او ویې فرمایل: "وَ يَتَبِعْ غَيْرَ سَبِيْلَ الْمُؤمِنِينْ نُوَلِهِ مَاتَوَلِي...او هر څوک چې له مؤمنانو پرته د لارې پیروي وکړي، هغه په هماغه لارې چې ځي، بوځو"[۱]

مونږ په ډیرو روایتونو کې لیدلي دي چې پیغمبر(ص) خپل اصحاب تبلیغ او نورو ته د خپلو خبرو رسولو ته هڅول او هغوي ته یې فرمایل: نَضَرَاللّٰهُ إمْرَءاً سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفَظَهَا وَ عَاهَا حَتَي يُبَلِغَها غَيْرَه، خداي تعالي دې خوشحاله کړي هغه څوک چې زما

---

۱ . د نساء سورې **۱۱۵** ایت، د اهلبیتو(ع) مکتب د دغو ټولو مقصود او مراد، مؤمنان اصحاب ګڼي، لکه څنګه چې د ایت تصریح دا دی او انشاء الله توضیح یې وروسته راځي.

خبره واوري او هغه حفظ وساتي ځو نورو ته يې ورسوي".

هغه مبارک پخپلې خطبې کې وفرمايل: بايد تاسو حاضرين زما وينا غايبينو ته ورسوئ او ويې فرمايل: "بَلِّغُو عَنِّي وَلَو آيَةً وَ حَدِثُو عَنِي وَلا حَرَجَ، زما له خوا تبليغ کوئ که څه هم يو ايت ولې نه وي او زما حديثونه نورو ته ورسوئ چې پر تاسو کمه ګناه نشته"

له دې وروسته، اصحاب(رض) په پولو، ښارونو او شاوخوا کې تيت پرک شول او په جنګونو، هيوادونو ازادولو، قومندانيو، قضاوت او انصاف بوخت شول، او په هغوي کې هر يوۀ په خپل استوګنځاې کې هغه څه چې له رسول الله مبارک يې اوريدلي وو، خپارۀ کړل او د خداي له رسوله يې د خپلو معلوماتو پر اساس د پوښتنو ځوابونو او فتواو ته مخه کړه، هغوي د قربت او ښه نيت ځانونه خلکو ته د دندو، حکمونو، سنتونو او د خداي د حلالو او حرامو يادولو ته وقف کړل، تر هغه وخته چې الله جل

شانه هغوي وبلل او روح يې ترې واخيستئ، د خداي رحمت، دضايت او بخښنه پر هغوي ټولو اوسه.

ابن عبدالبر د خپل کتاب "الاستيعاب" په سريزې کې وايي: "د ټولو اصحابو عدالت ثابت دی"[۱]

بيا مو هماغه ډول چې د رازي له قوله راوړل، د هغو ايتونو او روايتونو په راوړلو پيل کوي چې د مؤمنانو په حق کې راغلي دي.

ابن اثير د "اسد الغابة" په سريزې کې وايي:

"هغه سنتونه چې د حکمونو تفصيل، د حلالو او حرامو پيژندنه او دين په چارو کې نور داسې، د هغو په چورليز دي، يوازې هغه وخت ثابت دي، چې د اسنادو سړي او د هغو روايان پيژندل شوي وي، او د پيغمبر(ص) پر ټولو اصحابو لومړيتوب لري او که چېرې څوک هغوي ونه پيژني نو د نورو په نسبت

۱ . الاستيعاب في اسماء الاصحاب، تاليف حافظ محدث ابو عمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر نمري قرطبي مالکي (زيږنکال۳۶۳، فوت۴۶۳) د هغه عبارتونه مو د حاشيه "الاصابه" له نسخې نقل کړي.

هغوي ناپوهي لازياته او انکار يې هم لازيات دی، نو غوره دا ده چې د هغوي حال او نسب ښه وپيژندل شي.

د پيغمبر(ص) اصحاب په دغو ټولو موردونو کې له نورو راويانو سره مشترک دي، خو په جرح او تعديل کې، ځکه چې هغه ټول عادل دي او پر هغوي شک او اشکال منع دی".[۱]

ابن حجر د خپل کتاب "الاصابه" د سريزې په دريم څپرکي کې د اصحابو د حال او د هغوي د عدالت په بيان کې وايي: "اهل سنت په دې هکله چې ټول اصحاب عادل دي، د نظر اتفاق لري، او هيڅا په دې باب مخالفت نه دی کړی خو په بدعت کوونکو کې ډيرو لږو" هغه له ابوزرعه څخه روايت کړی چې ويلي يې دي:

---

۱ . "اسدالغابة في معرفة الصحابه" تاليف ابوالحسن عزالدين علي بن محمد عبدالکريم جزري، مشهور په ابن اثير (وفات ۲۳۰هـ) لومړی ټوک ۳مخ.

"هر کله داسې څوک ووينئ چې د خداي د رسول يو صحابي دروي او نه يې مني، پوه شئ چې هغه زنديق دی، ځکه چې د خداي رسول حق دی، قران کريم حق دی، هر څه يې راوړي حق دي، دا ټول مونږ ته يوازې اصحابو رسولي دي، او دغه ډله زمونږ د ګواهانو په خلاف ورزی او جرح سره د کتاب او سنت په تباهۍ و باطلولو پسې ده، نو د ځانونو خلاف او جرح يې لاغورده ده، هغوي زيديقان دي".[1]

---

۱ . الاصابه في تميزالصحابه تاليف حافظ شهاب الدين احمد بن علي بن محمد کناني عسقلاني شافعي په ابن حجر مشهور، (زوکړه۷۷۳، وفات۸۵۳هـ) د مصر چاپ، المکتبة التجاريه، ۱۳۵۸هـ، لومړی ټوک۱۷-۲۲مخونه "ابوزرغه" عبدالله بن عبدالکريم بن يزيد بن حجريه "تقريب التهذيب" کتاب کې (دوهم ټوک ۵۳۲مخ، ۱۴۷۹ نمبر) د هغه په هکله وايي: امام حافظ ثقة، د راويانو په يوولسمې پرګنې کې مشهور دی، په ۲۲۴هـ کال کې وفات شو، د صحيحينو خاوندانو، مسلم، ترمزي، نسايي او ابن ماجه، له هغه روايت کړی دی، زۀ وايم : په دښتونوالي نشو پوهيدلاي، چې امام ابوزرعه د خداي د رسول د اصحابو د منافقينو په هکله څه وايي؟

دا د اصحابو د عدالت په هكله د خلفاؤ د مكتب ليدتوګه وه، اوس په دې باب د اهل بيتو ليدتوګه بيانوو.

# د اصحابو د عدالت په باره کې د اهلبیتو(ع) مکتب نظریه

د اهلبیتو(ع) مکتب له قران کریم په پیروۍ کې وایي: په اصحابو کې داسې مؤمنان شته چې پاک خدای هغوي په قران کریم کې ستایلي او د بیعت شجره په باب یې فرمایلي دي:

لَقَدْ رَضِيَ اللّهُ عَنِ الْمُؤمنینَ اذْ یُبَایِعُوْنَکَ تَحْتَ الشَجَرَة فَعَلَمَ مَا فِي قُلوبِهِم فَانْزَلَ السَکِینَةَ عَلَیهِمْ وَ اَثابَهُم فَتْحاً قَرِیْباَ.[۱]

"خدای له هغو مؤمنانو، کله چې تر ونې لاندې یې ستا بیعت وکړ، راضي شو او خبر وو چې د هغوي په زړونو کې څه تېرېږي، له دې امله یې د هغوي پر

۱ . سورة فتح ، ۱۸ ایت

زړونو ډاډ او کراری نازل کړ او په نژدې راتلونکي کې يې ګټه (فتح) د هغوي اجر وګرځوه".

لکه څنګه چې ښکاره ده، دا ستاينه په بيعت شجره کې د حاضرو مؤمنانو ځانګړنه ده، او د عبدالله بن ابي او نورو په څېر حاضر منافقان پکې نه شامليږي.[1]

د اهلبيتو (ع) مکتب همدغه راز له قران مجيده په پيروۍ سره، په اصحابو کې داسې منافقين ويني چې خداي په ګڼ شمېر ايتونو کې هغه سپک کړي دي، د لوي خداي د دې خبرې په څېر چې فرمايي:

"وَ مِمَنْ حَولَکُم مِنَ الاَعْرابِ مُنافقُونَ وَ مِنْ اَهْلِ الْمَدِينَة مَرَدُوا عَلي النفَاقِ لا تَعلَمَهُمْ نَحْنُ نَعْلَمَهم، سَنُعَذِبَهُم مَرَتَيْنِ ثُمَ يُرَدُوْنَ إلي عَذاب عَظِيْمٍ"[2]

"هغه ځنې کسان چې د تا په شاو خوا کې دي، د عربو له کوچيانو، منافقان دي او د مدينې له

---

۱ . په مغازي و اقدي او خطط مقريزي کې د بيعت شجره (بيعت رضوان) کيسې ته مراجعه وشي.

۲ . سوره توبه ۱۰ ايت.

اوسيدونکيو هم يوه ډله په نفاق سخته پابنده ده،
ته (پيغمبر) هغوي نه پيژني خو مونږ هغو ښه پيژنو،
ډير ژر هغو دوه ځله سزا کوو، نو د ستر عذاب په
لوري شړل کيږي".[۱]

هو، په اصحابو کې داسې کسان وو چې خداي د
خپل پيغمبر(ص) پر حريم د هغوي د تهمت او افک په
هکله خبر ورکړی دی، له داسې وينا خداي ته پناه. او
په اصحابو کې داسې کسان هم وو چې خداي پاک د
هغوي په هکله فرمايي:
"وَ اِذَا رَأَوْ تِجَارَةً اَوْ لَهْواً انْفَضُوا اِلَيْها وَ تَرَكُوكَ قَائِماً"

۱ . د نور سورې په ۱۱ او ۱۷ ايتونو کې د افک کيسې ته
اشاره ده، چې د عائشې په بيزارې کې پر هغه تهمت چې پر هغې
يې تړلې ؤ، پخپله د هغې په روايت، يا د غير عائشه د روايت پر
اساس له دغه تهمته د ماريه په بري کولو کې لکه څنګه چې د ام
المؤمنين عايشه د حديثونو (د عربې متن) په دوهم ټوک کې
راغلي دي.

"کله چې تجارت یا فضولیات او لوبې ووینې، تیت پرک شي او په هغو پسې ځي، او تا (پیغمبر) ولاړ په خپل حال پرېږدي"[۱]

دا پېښه هغه وخت وشوه چې پیغمبر(ص) په خپل جومات کې د قیام په حال کې د جمعې د لمانځه خطبه لوستله، په اصحابو کې داسې کسان وو چې غوښتل یې د خداي رسول په عقبه هر شي کې د تبوک[۲] له غزا یا حجة الوداع د ستنیدا په وخت په پټه ووژني.[۳]

---

۱ . سوره جمعه ۱۱ ایت.

۲ . مسند احمد، پینځم ټوک ۳۹۰ او ۴۵۳ مخ، صحیح مسلم، اتم ټوک ۱۲۲ او ۱۲۳مخونه، د منافقینو د صفت په باب کې، مجمع الزوائد، لومړی ټوک ۱۱۰مخ او شپږم ټوک ۱۹۵مخ، مغازي واقدي، دریم ټوک ۱۰۴۲مخ، امتاع الاسماع مقریزي، ۴۷۷مخ، تفسیر درالمنثور، دریم ټوک ۲۵۸ او ۲۵۹مخ، په تفسیر کې د توبې سورې د ۷۴ ایت "هَمُوا بِمَا لَمْ یَنَالُوا"

۳ . د شیعیانو په حدیثونو کې راغلي دي، دا پېښه له وروستي حجه د پیغمبر(ص) د ستنیدا په د غدیر خم په خاطر د جحفه په ټاټوبي کې شوې وه، مراجعه وکړئ، بحارالانوار، ۲۸ ټوک، ۹۷مخ، په ۱۳۹۲هـ کې د تهران چاپ.

یقیناً له پیغمبر(ص) سره ملګرتیا او صحبت له هغه مبارک سره د وادۀ له شرافته غوره نه وی، ځکه چې د رسول ماندنیو مصاحبت د ملګرتیا او هم صحبتۍ تر ټولو لوړه درجه ده، په عین حال کې، متعال خداي هغوي مخاطب کړي او فرمايي:

یَا نساءَ النَبيْ مَن یَأت منْکُنَ بفَاحشَةٍ مُبینَةٍ یُضَاعَفْ لَهاَ الْعذابُ ضعْفَیْنِ وَ کَانَ ذَلکَ عَلی اللّه یَسیْراً، وَ مَنْ یَقْنُت منْکُنَ للّه وَ رَسُولْه وَ تَعْمَل صَالحاً نُؤتها اَجرها مَرَتَیْنِ وَ اَعْتَدْنا لَها رِزقَاً کَرِیْماً، یَا نِساءَ النَبي لَسْتُنَ کَاَحَدٍ مِنَ النِسَاء اَنِ التَقَیْتُنَ...[1]

"اې د پیغمبر(ص) ماندینو! که په تاسو کې هره یوه په ښکاره ګناه وکړي، عذاب به یې دوه چنده وي، اودا د خداي لپاره اسان کار دی، او په تاسو کې چې هره یوه د خداي او د هغه د رسول په وړاندې خاکساري وکړي او نیک عمل وکړي، اجر به دوه چنده ورکوو د هغوي لپاره مو نیک رزق چمتو کړی

۱ . سوره احزاب، ۳۰- ۳۲ ایتونه.

دی، اې د پیغمبر(ص) ماندینو! تاسو د نورو ښځو په څیر نه یاست که چیرې پرهیزګاره واوسئ ..."

خدای پاک په هغوی کې د دوو تنو په هکله فرمایي: "انْ تَتُوبا الی اللّٰه فَقَدْ صَغتْ قُلُوبُکُما وَ انْ تَظَاهَرَا عَلَیْهِ فَانَ اللّٰه هُو مولاهُ و صالِحُ الْمؤمِنینَ وَ الْمَلئکةُ بعدَ ذلکَ ظَهِیْرا ً. الی قوله تعالی . مثلاً للذیْنَ کَفَروا امْرَاةَ نُوحٍ و امْرأَةَ لوط کانَتَا تحْتَ عَبْدینِ منْ عبادنا صالحین فَخَانَتاهُما فَلَنْ یُغْنیا عَنْهُما من اللّٰه شَیْئاً و قِیْلَ ادْخُلِ الْنارَ معَ الداخِلینْ، وَ ضَرَبَ اللّٰهُ مثلاً للذینَ امَنوا امْراةَ فِرْعَوْنَ إذْ قَالَتْ رَبِ ابْنِ لِیْ عِنْدکَ بَیْتاً فی الْجَنَة ... و مَرْیَمَ ابْنَتَ عِمرَانَ ..."

"که تاسو دوه ښځې توبه وکړئ (ستاسو په ګټه ده) ځکه چې ستاسو زړونه له حقه غړیدلي او که د هغه (پیغمبر(ص)) پر ضد ملګري شئ، په تحقیق سره خدای، جبرایل او صالح مؤمنان یې ملګري او مرستندوي دي او تر هغو وروسته فرښتې یې ملاتړي، پاک خدای له هغو کسانو لپا ره چې کافر شول د نوح او لوط علیهما السلام د ښځو مثال راوړی

دی، هغه دواړه زمونږ د دوو صالحو بندګانو تر سرپرستۍ لاندې وې، خو له هغو دوو سره یې خیانت وکړ خو هغو دوو ملګرو په هیڅ شي له خدا یه بې نیازه نه کړل او هغو دوو ته وویل شول چې له دوزخیانو سره یو ځاي اور ته داخلې شئ، او خداي د مؤمنانو لپاره د فرعون د ماندینې مثال راوړی دی کله چې وویل: پروردګاره! زما لپاره له ځان سره نیژدې په جنت کې یو کور جوړ کړه ... او همدغه راز د عمران لور بي بي مریم ...[1]

د خداي پیغمبر(ص) د قیامت په ورځ د ځینو اصحابو د حال په بیان کې فرمایي: "وَ انَهُ یُجاءُ مِنْ اُمَتیِ، فَیُؤخَذُ بِهِمْ ذاتَ الشمالِ فَأَقُولُ یا رَبِ أَصْحابی، فَیَقَال: اَنکَ لا تَدْری مَا اَحدَثُوا بَعدکَ، فأقُولُ کَما قالَ الْعَبْدُ الصالحْ: "وَ کُنْتُ عَلَیْهِمْ شَهِیْداً مَا دُمْتُ فِیْهِمْ فَلَمَا کُنْتَ انْتَ الرَقِیْبَ عَلیْهِمْ" فَیُقال: إنَ هَؤُلاءِ لَمْ یَزالُوا مُرتَدین علی اَعْقابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ".

---

۱ . سورة تحریم، ۴، ۱۰ او ۱۲ ایتونه.

"او د قیامت په ورځ به زما د امت یو شمېر وګړي ډګر ته راوستل، او د دوزخ په لور به بوتلل کېږي، زۀ به وایم: پروردګارا! زما اصحاب! ویل کېږي به: ته نه یې خبر چې ستا له تګه وروسته یې کوم بدعتونه وکړل، نو زه به هم هغوي ته هماغه وایم چې د خداي صالح بنده (د مریم زوي عیسی(ع)) وویل: زه تر هغه وخته پورې چې ستاسو په مینځ کې ووم، د هغوي له حاله خبر ووم خو کله چې دې د هغوي له منځه واخستم، ته پخپله د هغوې څارونکی وې،[1] نو ویل کېږي به: دغې ډلې چې کله ترې جلا شوی په پرله پسې له دینه مخ واړوۀ او خپل تېر وخت ته ستانه شول.[2]

په بل روایت کې راغلي دي:

---

۱ . مائده سوره ۱۱۷ ایت.

۲ . بخاري، د مائدې سورې د "یا ایُها الرسُولُ بَلِغْ مَا اُنْزِلَ اِلیْکَ" په تفسیر کې او د انبیا سورې تفسیر، ترمذي: د قیامت صفت څپرکی، د حشر په شان کې د وارد شویو روایتونو څپرکی او د طه سورې تفسیر.

"لَيَرَدَنَ عَلَیَ نَاسٍ مِنْ اصْحابِيْ الْحَوضَ حَتی عَرَفْتُهُمْ اخْتَلَجُوا دُونِیْ فأقُولُ: اَصْحابِیْ! فَيَقُولُ: لا تَدْرِیْ ما اَحْدَثُوا بَعْدَکَ".

"زما يو شمېر اصحاب پر حوض کوثر ماته راولي، ځو ويې پېژنم، بيا يې له ما جلا کوي، وايم، زما اصحاب! وايېک ته نه يې خبې ستا له تګه وروسته يې څه بدعتونه وکړل"[1]

په صحيح مسلم کې داسې راغلي دي:

"لَيَرَدَنَ عَلَی الْحوضِ رِجالٌ مِمَنْ صاحَبَنیْ حَتَی اِذا رَأَيْتُهُمْ رَفَعُوا اِلَیَ اخْتَلَجُودُونیْ، فَلأقولَنَ: أیْ رَبِ أصْحابی، فَلَيُقالَنَ لِی: إنَکَ لا تَدْری ما أحْدَثُوا بَعْدکَ"

"زما ځينې اصحاب پر حوض کوثر زما په نيزد راولي چې خپلې خوا ته د هغوي راتګ وينم له ما يې جلا کوي، وايم: پروردګاره! زما اصحاب! ما ته ويل

---

۱ . بخاري، د دعوت کتاب، باب فی الحوض، ابن ماجه، د مناسکو کتاب، ۵۸۳حديث، مسند احمد، لومړی ټوک۴۵۳مخ، دريم ټوک ۲۸مخ، پينځم ټوک ۴۸ مخ.

**کیږي: ته نه یې خبر ستا له تګه وروسته یې کوم بدعتونه وکړل.**[۱]

۱ . صحیح مسلم، کتاب فضائل، باب اثبات حوض نبینا، حدیث۴۰.

## د مؤمن او منافق د پیژندنې ضابطه (قاعده)

لکه څنګه چې د خدای د رسول (ص) په اصحابو کې یو شمېر منافقان وو، چې له خدایه پرته بل چا نه پیژندل، له دې امله، پیغمبر(ص) فرمایلي دي: "علي نه خوښوي مګر مؤمن او هغه دښمن نه ګڼي مګر منافق". یعنې له مومنه پرته څوک له علی(ع) سره مینه نلري او له منافقه پرته یې څوک دښمني نه کوي، دا حدیث امام علي(ع)[1]،

۱ . حضرت علی (ع) د ابوطالب زوی په کعبه کې وزیږیدۀ، لکه څنګه چې حاکم په مستدرک (۳۰ ټوک ۴۸۳مخ) کې هغه روایت کړی دی او هم، مالکی په "الفصول المهمه"، مغازلی شافعی په مناقب کتاب کې او شبلنجی د نورالابصار په ۲۹مخ. د هغوي زوکړه د ۱۳عام الفیل د رجب د میاشتې په دیارلسمه نیټه وه. په ۳۵ هجري کال کې مهاجرانو او انصارو له هغوي سره بیعت وکړو او په ۴۰هجري کال د روژی د میاشتې په نولسمه نیټه ابن ملجم مرادي هغوي ژوبل کړل او هم د دې میاشتې په← ←

## ام المؤمنين بي بي ام سلمه عليها السلام[۱]،

يويشتمه نيته شهيد شول. د صحاحو ليكونكو **۵۳۲** حديثونه له هغوي نقل كړي دي د هغوي د ژوند حال په الاستيعاب، اسد الغابه، الاصابه او جوامع السيره (۲۷۲مخ)كتابونو كې موجود دی او د منافقانو په باره كې د هغوي حديثونه په صحيح مسلم(لومړی ټوک ۲۱مخ) صحيح ترمذي(۱۳ټوک ۱۷۷مخ) سنن ابن ماجه يوولسم څيركې په سريزې كې، سنن نسايي (۲ټوک ۲۷۱مخ) د مؤمن او منافق د نخښو په باب كې، خصائص نسايي۳۸مخ، مسند احمد (لومړی ټوک **۹۵**،۸۴ او ۱۲۸مخونه) تاريخ بغداد(۲ټوک **۲۵۵**مخ، ۸ټوک ۴۱۷مخ، ۱۲ټوک ۴۲۲مخ) د ابونعيم حلية الاولياء (۴ټوک **۱۸۵**مخ) هغه وايي چې دا حديث صحيح دی او ټول پرې اتفاق لري، د ذهبي تاريخ الاسلام (۲ټوک ۱۹۸مخ) تاريخ ابن كثير (۲ټوک **۳۵۴**مخ) او د هغوي د ژوند حال د الاستيعاب په ۲ټوک ۴۲۱مخ، اسد الغابه ۴ټوک ۲۹۲مخ، كنزل العمال **۱۵**ټوک **۱۰۵**مخ، رياض النضره ۲ټوک ۲۸۴مخ راغلی دی.

۱ . ام المؤمنين "ام سلمه" هند چې د ابو اميه بن مغيره قرشي لور، د پيغمبر(ص) نه وړاندې د "ابوسلمه" ښځه وه، له خپل خاوند سره يې اسلام راوړ او سره يې حبشې ته هجرت وكړ او بيا يې مدينې ته، كله چې د هغې خاوند د احد په جنګ كې ژوبل شو او د هجرت په دريم كال شهيد شو، نو پيغمبر(ص) هغې←

## عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنه[۱]، او حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه[۲]،

←سره واده وکړ. ام سلمه د امام حسین علیه السلام له شهادته وروسته په ۲۰هجري کال کې په حق ورسیده، د صحاحو لیکوالانو د هغې نه ۳۷۸حدیثونه نقل کړي دي. د هغې او د هغې د اول میړه د ژوند د حالاتو نه پوره خبریدو لپاره دې کتابونو ته مراجعه وکړئ: اسد الغابه، جوامع السیره۲۷۲مخ، تقریب التهذیب ۲ټوک ۲۱۷مخ. د منافقینو له حقله د هغې حدیث په صحیح ترمذي ۱۳ټوک ۱۲۸مخ، مسند احمد ۲ټوک۲۹۲مخ، الاستیعاب ۲ټوک ۴۲۰مخ، له مختلفو لارو نقل شوی، او په تاریخ ابن کثیر ۷ټوک ۳۵۴مخ، کنزالعمال۲ټوک ۱۵۸مخ لومړی چاپ کې راغلی دی.

۱ . عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب د پیغمبر(ص) د ترۀ زوی، له هجرته درې کاله وړاندې وزیږیداو په ۲۸هجري کال کې په طائف کې وفات شو. د صحاحو لیکوالانو ۱۲۲۰ حدیثونه له هغوي نقل کړي دي. د هغه د ژوند حال په اسد الغابه، الاصابه او جوامع السیره ۲۷۲ مخ باندې راغلی دی.

۲ . ابوذر، جندب یا برید بن جناده، چې اسلام ډیر ومخکې قبول کړې او هجرت یې کړې، د جنګ بدر نه وروسته د خدای رسول(ص) سره په هر یو جنګ کې شریک ؤ. په ۳۲ هجري کال د ربذې په دشته کې د تبعید په حال کې وفات شو. د صحاحو←

# انس بن مالک[۱] او عمران بن حصین[۲] ټولو روایت

← لیکوالانو له هغه نه ۲۸۱ حدیثونه نقل کړي دي. د هغه د ژوند حال په تقریب ۲ټوک ۴۲۰مخ، جوامع السیرة ۲۷۷مخ، او عبدالله بن سبا کتاب په دویم ټوک کې راغلی دی.

۱ . د انس بن مالک په حقله ویلې شي چې لس کاله د پیغمبر(ص) خادم ؤ، لاسونه به یې تر سنګلو د سپین والي(یو مرض) په وجه په یوې پټې پټول. او دا مرض یې د هغه خیرو په وجه چې علی(ع) دهٔ ته کړی وی ځکه د غدیر د حدیث انکار یې کړی ؤ، نو علی(ع) له خدایه وغوښتل چې یو بیلګه سپین والې پر هغه ولګوي چې په عمامې(پټکي) نه پټیګي. د دې کیسې لنډ بیان په الاعلاق النفیسه کتاب کې په ۱۲۲مخ راغلی دی. او په تفصیل سره د نهج البلاغې د شرح د ۲ټوک په ۳۸۸مخ موجود دی. هغه له ۹۰ هجري وروسته په بصره کې وفات شو. د صحاحو لیکوالانو له هغه نه ۲۲۸۶حدیثونه نقل کړي دي، د هغه د ژوند لیک په اسد الغابه، تقریب التهذیب او جوامع السیرة ۲۷۶مخ کې راغلی دی. د منافقانو په حقله د هغه روایت د کنزل العمال د لومړي چاپ د ۷ټوک په ۱۴۰مخ کې راغلی دی.

۲ . ابونجید، عمران بن حصین خزاعی کعبی، عمران بن حصین خزاعی کعبی، د خیبر د فتح په کال کې مسلمان شو او د پیغمبر(ص) ملګرې شو، په کوفه کې یې قضاوت کاوه او په ۵۲کال کې له دنیا لاړ. د صحاحو لیکوالانو له هغه ۱۸۰← ←

کړی او د پیغمبر(ص) په زمانه کې خپور شوی او مشهور وو.

ابوذر وايي: مونږ به منافقان نه پیژندو مګر داسې چې خداي او رسول نه به يې انکار وکړله واجب لمانځو څخه به يې مخ واړوه، او له علی(ع) سره به دښمني کوله.[1]

ابو سعید خذري وايي: مونږ (انصارو) به د پیغمبر(ص) په زمانه کې منافقان د علی سره په بغض او کینه باندې پیژندل.[2]

---

حدیثونه نقل کړي دي. او د منافقانو په حقله د هغه روايتونه د کنزل العمال په ۷ټوک ۱۴۰مخ لومړې چاپ، د هغه د ژوند حال د تقریب التهذیب په ۲ټوک ۷۲مخ، او جوامع السیره ۲۷۷مخ راغلی دی.

۱ . مستدرک الصحیحین ۳ټوک ۱۲۹مخ او کنزل العمال ۱۵ټوک ۹۱مخ.

۲ . ابو سعید بن مالک بن سنان خزرجي جذري، د خندق او د هغې نه وروستو غزاګانو کې يې شرکت وکړ. په ۲۳ یا ۲۴یا ۲۵ کال کې په مدینې کې وفات شو. او ځینو ۷۴ کال نقل کړی دی. د صحاحو لیکوالانو له هغه ۱۱۷۰حدیثونه نقل کړي دي د←

عبدالله بن عباس وايي: مونږ به د پيغمبر(ص) په زمانه کې منافقان د علی سره په بغض او کينه باندې پيژندل.[۱]

جابر بن عبدالله انصاري وايي: مونږ منافقان يوازې په دې پيژندل چې له علی(ع) سره به يې دښمني درلوده.[۲]

← هغه د ژوند حال په اسدالغابه ۲ټوک ۲۹۸مخ، تقريب التهذيب ۱ټوک ۲۸۹مخ او جوامع السيره ۲۷۲مخ باندې راغلی دی. د منافقانو په حقله د هغه حديثونه د ترمذي په ۱۳ټوک ۱۲۷مخ، حلية الاولياء ابونعيم ۲توک ۲۸۴مخ باندې راغلي دي.

۱ . تاريخ بغداد ۳ټوک ۱۵۳مخ.

۲ . جابر بن عبد الله عمرړ انصاری، پخپله صحابي دی او د صحابي زوې دی د عقبې په بيغت کې له خپل پلار سره موجود ؤ او د ۱۷ جنګونو کې د پيغمبر(ص) سره شرکت کړې ؤ، د صفين په جنګ کې هم د علي(ع) سره ؤ د ۷۰هجري کال نه وروسته په مدينه کې وفات شو. د صحاحو ليکوالانو له هغه ۱۵۴۰حديثونه نقل کړي دي. د هغه د ژوند حال د اسدالغابه په لومړي ټوک ۲۵۲ او ۲۵۷مخ، تقريب التهذيب په لومړې ټوک ۱۲۲مخ او د جامعه السيره په ۲۷۲مخ راغلی دی.د منافقانو←

دي روايتونو ته په پام او د رسول الله (ص) خبرو ته په پام سره چې د علی(ع) په باره کې فرمايي: "أَللّٰهُمَ والِ مَنْ والاهُ و عادِ مَنْ عاداهُ؛ خدايه! د علی(ع) مینه والو سره مینه ولرې او د هغه دښمنانو سره دښمني وکړی."[۱]

دي ټولو روايتونو ته پام سره د اهلبيتو(ع) د مکتب لارويان د دينی مطلبونو او علمونو په

---

← په حقله د هغه روايت د الاستيعاب په ۲ټوک ۴۶۲مخ،تاريخ ذهبي ۲ټوک ۱۹۸مخ او مجمع الزوائد ۹ټوک ۱۳۳مخ راغلی دی.

۱ . صحيح ترمذي ۱۳ټوک ۱۲۵مخ د مناقب علی(ع) په باب کې. سنن ابن ماجه د علی(ع) د فضيلت په باب کې ۱۱۲حديث. خصائص نسائي ۴ او ۳۰مخ، مسند احمد ۱ټوک ۸۴، ۸۸، ۱۱۸، ۱۱۹، ۱۵۲ او ۳۳۰مخونه او څلورم ټوک ۲۸۱، ۳۶۸، ۳۷۰ او ۳۷۲مخونه او پينځم ټوک ۳۰۷، ۳۴۷، ۳۵۰، ۳۵۸، ۳۶۱، ۳۶۶، ۴۱۹، ۵۶۸ مخونه، مستدرک صحيحين دوم ټوک ۱۲۹مخ او ۳ټوک ۹مخ، رياض النضرة دويم ټوک ۲۲۲-۲۲۵مخ، تاريخ بغداد ۷ټوک ۳۷۷مخ او ۸ټوک ۲۹۰مخ او ۱۲ټوک ۳۴۳مخ او نور ډير مصدرونه.

راخستلو کې له هغې اصحابو چې د علی (ع) سره یې دښمني کړی ده إحتیاط کوي. ځکه چې کیدی شي دا صحابي له هغې منافقینو وي چې بې له خدایه یې بل څوک نه پیژني.

♣ ♣ ♣